ليکوال: شريف بهاند نيټه ۲۰۱۱-۰٦-۰۷

# د پوځي اډو د رامنځته کولو اړتيا او د هغو موخې
۳

موږ به يو نړيوال حکومت جوړ کړو، که هغه د نيواک له لارې وي
او که د خوښاوی او جوړ جاړی له لارې. که تاسو له هغه سره مينه
لري او که پرته ستاسو له خوښې څخه وي.
امريکايی سياست پوه جيمز واربورگ James Warburg

د ناتو پوځي سازمان او افغان غميزه:
ځيني وخت په نړۍ کې داسي تاريخي پيښې يا په ناڅاپي توګه، يا د ناسم سياست د پلي کولو له امله او يا هم د ناڅرګند ځواک له خوا په لوی لاس رامنځته کيږي، چې د هغو پايلې د نړيوالو او سيمه ييز اړيکو پر بيلابيلو برخو په بې ساري توګه ژور اغيز او ان د ځينو هيوادونو په کورنيو چارو کې د بنسټيز بدلونونو لامَل شي. د دا ډول پيښو ښې بيلګې د نورو تر څنګ د تيرې پيړۍ په وروستي لسيزه کې د سړې جګړې پايته رسيدل او د رواني هغې په پيل کې د امريکا د متحدو ايالتونو په تاريخ کې پر دغه هيواد تر ټولو ستره ضربه ياني د ۲۰۰۱ کال د سپتمبر د يوولسمې نيټې پيښه ده. څومره چې دغه پيښه حيرانونکي وه، هومره د هغې پايلې هم پر نړيوالو اړيکو اغيزمنې وې او دي، چې ښه بيلګه يې د نړيوالې ترهګرۍ په وړاندې د مبارزې لپاره، د نړيوالې ټلوالې رامنځته کيدل او ورسره جوخت د ملګرو ملتونو د ۱۳٦۸ او ۱۳۷۳ پريکړه ليکونو له مخې د شمالی اتلانتيک د پوځي سازمان (ناتو) له خوا د طالبانو د واکمنې د راپرځولو او د القاعده د ترهګرۍ شبکې د مادي او معنوي بنسټونو د له منځه وړلو په موخه، پر جګړه ځپلي افغانستان يرغل و. پر افغانستان د متحدو ايالتونو او بريتانيا له هوايي يرغل څخه نړيوالو او سيمه ييزو سترو هيوادونو هم خپل ملاتړ اعلام کړ. ښه بيلګه يې:

- د بلجيم لومړی وزير، چې د اورپايي ټولنې پراويز مشر هم و، اعلام وکړ: "اروپايي ټولنه پر افغانستان، د متحدو ايالتونو او بريتانيا له پوځي يرغل څخه، چې په عمل کې يوه ‘‘مشروع,, غچ اخيستنه ده، «هر اړخيز ملاتړ» کوي؛
- د فرانسې پخواني ولسمشر، شيراک وويل: فرانسه د متحدو ايالتونو وروستې غوښتنې ته په پاملرنې سره، د طالبانو د رژيم د پرځولو په موخه په دغو پوځي عملياتو کې برخه اخلي؛
- د المان پخوانی لومړی وزير، ګيرهارد شرويدر د متحدو ايالتونو په پلوی د خپل حکومت "نامحدود ملاتړ" اعلام کړ؛
- د روسيې د فدراسيون ولسمشر، پوتين په خپل لومړی غبرګون کې، د دغو پوځي عملياتو ملاتړ وکړ؛
- د چين مشرانو دغو عملياتو ته په نغوتې سره، هيله څرګنده کړه، چې هغه يوازې په محدودو اهدافو تر سره شي؛
- د چاپان لومړی وزير هم د بريتانيا او متحدو ايالتونو له پوځي يرغل څخه د خپل هيواد بشپړ ملاتړ اعلام کړ.

د افغانستان ګاونډيو هيوادونو په تيره ازبکستان، تاجيکستان او پاکستان نه يوازې له دغو پوځي عملياتو څخه هر اړخيز ملاتړ، بلکې ځينو هغو ان خپل پوځي بنسټونه او څارګري پټ مالومات هم د متحدو ايالتونو او بريتانيا د پوځيانو په واک کې ورکړل. په دې توګه د متحدو ايالتونو تر مشرۍ او قومندې لاندې طالب ضد ټلواله جوړه او د دغه نړيوال هر اړخيز او نامحدود ملاتړ او همدارنګه د ناتو د ستر پوځي ځواک له ټولو شونتياوو څخه په کار اخيستنې سره، دغې ټلوالې وکولي شول، په څو ورځو کې د القاعدې د ترهګرۍ شبکې بنسټونه له منځه يوسي او طالب رژيم رانسکور او افغانستان د ناتو د پروتکتورات Protectorat بڼه غوره کړي. د ناتو سازمان له پوځي عملياتو وروسته افغانستان په څلورو پوځي زونونو وويشه او په هر زون کې يې د نړيوالې ټلوالې پوځيان ځای په ځای کړل، چې لاندنی نقشه هغه په ښه توګه روښانه کوي:


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ




اخځای:
http://de.wikipedia.org/wiki/NATO

خو د نړيوالي ټولني له خوا د ناځرګند ځواک (ترهګرى) او طالب اورپکو پر وړاندي له پيل شوي جګړې ۱۰ کاله وروسته، داسي نښي نښاني تر سترګو کيږي، چي نه يوازي دغه جګړه پايته نه ده رسيدلي، بلکي نړيواله ټلواله په هغي کي د خپلي احتمالى ناکامى خبري کوي. د بيلګي په توګه د متحدو ايالتونو د پوځ پخواني مشر، جنرال ستانلي ميک کريستال Stanley McChrystal په خپل ۶۶ مخيز پټ ريوټ کي د خپل هيواد په حکومت غږ کوي، چي په خپله پوځي ستراتيژى کي بدلون رامنځته او نور پوځيان افغانستان ته وليږي. د نوموړي په اند: "که په افغانستان کي د امريکايي سرتيرو شمير زيات نه شي، ښايي په دغه هيواد کي د متحدو ايالتونو ماموريت له ناکامي سره مخامخ شي" (۱). ميک کريستال ګواښ کوي، چي " ... منابع ناکافی احتمالاً به شکست منجر خواهد شد" (۲). نوموړي د خپل ريوټ په يوى بلي برخه کي زياتوي، چي "... ناکامی در فراهم کردن منابع کافی خطر طولانی شدن جنگ، تلفات بيشتر، هزينه های بيشتر و از دست رفتن حمايت های سياسی را با خود به همراه دارد" او" ... هر کدام از اين مسايل می تواند به شکست ماموريت (آمريکا در افغانستان) بيانجامد" (۳). د ميک کريستال د همدي سپارښتني پر بنسټ، پنتاګون خپل نور ۳۰ . ۰۰۰ پوځيانو افغانستان ته وليږل. سربيره پر دي واشنګټن د ناټو له نورو غړو هيوادونو او د خپلي ټلوالي له غړو او همدارنګه له دوستو هغو هم وغوښتل، چي له خپلي شونتياوو سره سم نور پوځيان، پوځي تجهيزات او لوژيستکي وسايل افغانستان ته وليږي. په دي توګه د نړيوالي ټلوالي د پوځيانو شمير له ۱۴۰. ۰۰۰ څخه زيات شو. وګورئ لاندني جدول.

په افغانستان کي د نړيوالي ټلوالي د مهمو غړو هيوادونو د ځواکونو شمير

| ګڼه | هيوادونه | د سرتيرو شمير |
|---|---|---|
| ۱ | د امريکا متحده ايالتونه | ۹۰. ۰۰۰ |
| ۲ | بريتانيا | ۹. ۵۰۰ |
| ۳ | المان | ۴. ۸۸۶ |
| ۵ | فرانسه | ۳. ۸۵۰ |
| ۶ | ايتاليا | ۳. ۶۸۸ |
| ۷ | کانادا | ۲. ۹۲۲ |
| ۸ | پولند | ۲. ۵۱۹ |
| ۹ | ترکيه | ۱. ۷۹۰ |
| ۱۰ | رومانيا | ۱. ۶۴۸ |
| ۱۱ | اسپانيا | ۱. ۵۷۶ |
| ۱۲ | استراليا | ۱. ۵۵۰ |
| ۱۳ | ګرجستان | ۹۲۴ |


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکني د ليکنيزى بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالپرلو مخکي په خير و لولئ

اخځای:
http://www.donaukurier.de/nachrichten/topnews/D-Portugal-USA-NATO-Russland-Gipfel-Atom-Ruestung-Russland-arbeitet-bei-Raketenschild-mit-NATO-zusammen;art١٥٤٧٧٦،٢٣٤٩٠١٤

سربيره پر پورتنيو هيوادو دنمارک ۷ ۵۰، بلغاريا ۵۱۶، مجارستان ۵۰۲، سويدن ۵۰۰، بلژيک ۴۹۱، جمهورى چک ۴۶۸، ناروى ۳۵۳، کروشيا ۲۹۹، البانيا ۲۵۸، سلواکيا ۲۵۰، سويلى کوريا ۲۴۶، نيدرلند ۲۴۲، نيوزيلند ۲۳۴، ليتوانيا ۲۱۹، لتونيا ۱۸۹، مقدونيه ۱۶۳، فنلاند ۱۵۰، استونيا ۱۴۰، پرتګال ۹۵، اذربايجان ۹۴، يونان ۸۰ ، سلوانيا ۷۸، مغولستان ۴۷، بوسنيا هرځګووينا ۴۵، ارمنستان ۴۰، سنګاپور ۳۸، عربى متحده امارات ۳۵، مونته نګرو ۳۱، ماليزيا ۳۰، اوکراين ۱۶، لوکزامبورګ ۹، ايرلند ۷، ايسلند ۴، اتريش ۳ تنه پوځيان په افغانستان کې ځاى په ځاى کړي دي (۴).
د متحدو ايالتونو تر مشرى لاندې د نړيوالي ټلوالي دغې پوځي پراختيا، نه يوازې دا چې په هيواد کې هر اړخيزه سوله رامنځته نشوه کړاى، بلکې افغان غميزه يې نوره هم ژوره، د جګړې لمنه لا هم پراخه او د هغې عمر اوږد کړ.
ځکه:
ـ له هماغه پيل څخه په خپله د ناتو غړي هيوادونه د افغانستان د کړکيچ د ماهيت په اړه ګډ نظر نه لري. د بېلګې په توګه د بريتانيا او متحدو ايالتونو د مشرانو په اند، د ناتو سازمان د پاڅون کونکو په وړاندې په جګړه لګيا دى، خو د سازمان نور غړي هيوادونه د هغو له ډلې الملان بيا په دې نظر دى، چې د ناتو ماموريت په افغانستان کې د هر اړخيزې سولې ټينګښت دى، نه جګړه (۵). د همدې لامَل پر بنسټ دوى ونشو کړي، د افغانستان لپاره پر يوې ګډې ستراتيژۍ هوکړه وکړي؛
ـ سر بيره پر دې اوس "د ناتو هر غړى هيواد په افغانستان کې خپله پوځي ونډه د خپلو ستراتيژيکو ګټو پر بنسټ تر سره کول غواړي" (۶)، نه له متحدو ايالتونو سره د ملاتړ پر بنسټ. د توبياس فيلوګر Tobias Pflüger په اند: "زړه اروپا نيت نه لري، په سوله ساتي ځواک بدله شي، بلکې په دې لټه کې ده، چې له يوبخوا خپلې اقتصادي ګټې او له بلې خوا پوځي هغه ترلاسه کړي (۷). ځکه "هيوادونه دايمي ګټې لري، نه دايمي دوستان". دا په خپله روښانه کوي، چې په سيمه کې د اقتصادي ګټو پر سر سيالى نه يوازې د لويديځې نړۍ د سترو اقتصادي ځواکونو ترمنځ، بلکې د دوى او سيمه ييزو ځواکونو لکه چين، روسيې او هند ترمنځ په خورا شدت سره روانه ده. خو د اقتصادي شمېرو (ارقام) او د ځانګيزو پوهانو د څېړنو له مخې ويلى شو، چې په نړيوال ډګر کې د لويديځې نړۍ اقتصادي برترۍ د زوال په حال کې ده. د فرانسوى اقتصاد پوه، فرانسوا پرپو Francois Perroux په اند، پر نړۍ باندې اقتصادي واکمنې ډيره زياته موده د بريتانيا په لاس کې وه. له دوهمې نړيوالي جګړې وروسته متحده ايالتونه "د نړۍ د بناغلي" په توګه دغه ډګر خپل کړ، چې اوسمهال دغه هيواد شأ تګ ته اړ شوى دى او په ځاى يې د چين ولسي جمهوريت، هند، برازيل، روسيې او سويلې افريقا د نوو نړيوالو اقتصادي ځواکونو دريځ ترلاسه کړى او يا د هغه د ترلاسه کولو په درشل کې دي. لاندنى جدول د ځينو نړيوال اقتصادي ځواکونو، اقتصادي وده په ښه توګه روښانه کوي.

د نړۍ د ځينو مهمو سترو او سيمه ييزو ځواکونو اقتصادي وده
شمېرى په ٪

| هيوادونه | ۲۰۰۹ | ۲۰۱۰ | ۲۰۱۱ |
|---|---|---|---|
| نړۍ | ـ ۰. ۶ | ۴. ۸ | ۴. ۲ |
| د امريکا متحده ايالتونه | ـ ۲. ۶ | ۲. ۶ | ۲. ۳ |
| د المان فدرالي جمهوريت | ـ ۴. ۷ | ۳. ۳ | ۲. ۰ |
| بريتانيا | ـ ۴. ۹ | ۱. ۷ | ۲. ۰ |
| جاپان | ـ ۵. ۲ | ۲. ۸ | ۱. ۵ |
| روسيه | ـ ۷. ۹ | ۴. ۰ | ۴. ۳ |
| برازيل | ـ ۰. ۲ | ۷. ۵ | ۴. ۱ |
| هند | ۵. ۷ | ۹. ۷ | ۸. ۴ |
| د چين ولسي جمهوريت | ۸. ۱ | ۱۰. ۲ | ۹. ۶ |

اخځای:
Report Nr. ٨٣-٨٤, ____ Fred Schmid: China, Krise als Chance? Aufstieg zur ökonomischen Weltmacht, isw ٢٠١٠, München, S. ٦


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

د پورتني جدول له ارزوني دا پایله ترلاسه کېږي، چې اسیا له اقتصادي پلوه ټکان خوړلې او په هغه کې د نورو ترخنګ دوه ستر اقتصادي ځواکونه، چین او هند، د رامنځته کیدو په حال کې دي. که د دوی په دغي غوره شوي لار کې لویدیځه نړی خنډونه رامنځته نه کړي، چین به په راتلونکو څو کلونو کې د اقتصادي ځواک په توګه، د متحدو ایالتونو ځای ونیسي او هند به له هغه سره اوږه په اوږه مخ په وړاندې درومي. وګورئ لاندنی ګراف.




اخځای:
http://www.spiegel.de/fotostrecke/fotostrecke-٦٣٧٧٥.html
د اروآسیا د دغه سیاسي ـ اقتصادي ارزښت په باب **زبیګنیو بریژینسکی ځومره ښه ویلي: "اروآسیا د سطرنج هغه تخته ده، چې پر نړی باندې د راتلونکي برلاسی لپاره لوبه پرې تر سره کیږي"**[8]**، او افغانستان د سطرنج د دغې تختې تر ټولو ستراتیژیکه برخه ګڼل کیږي. د هیواد د دغه ستراتیژیک پریوت له امله، بیلا بیل نړیوال او سیمه ییز ځواکونه په دې هڅه کې دي، چې د خپلو ستراتیژیکو موخو د ترلاسه کولو لپاره پر افغانستان مستقیم او یا غیر مستقیم اغیز ولري. یورګین شیفران** Jürgen Scheffran **هم دغې موضوع ته نغوته کوي او وایي: "افغانستان ... تر زیاتي اندازې پورې د هغه د ستراتیژیک پریوت له امله، چې د بیلابیلو سترو ځواکونو د ګټو ټکر ځای او د تیلو د لیږدولو ځلور لاره (دهلیز)) ګڼل کیږي، تر بمباری لاندې ونیول شو ... "**[9]. که څوک غواړي په ریښتني توګه په افغانستان کې د متحدو ایالتونو د پوځي اډو د جوړولو او یا د بهرنیو ځواکونو د اوږدمودیز شتوالي ګټورتوب او زیان وڅیړي، نو ښه به دا وی، چې هغه د سیمه ییزو او نړیوالو ځواکونو تر منځ د اقتصادي سیالی پر بنسټ وارزوي.

نور بیا

اخځایونه:

http://www.spiegel.de/politik/ausland/٠،١٥١٨،٦٥٠٢٠٢،٠٠.html ١-
http://www.bbc.co.uk/persian/afghanistan/٢٠٠٩/٠٩/٠٩٠٩٢١_ram_af_more_troops.shtml٢-
٣ ـ هماغه اخځ
http://www.donaukurier.de/nachrichten/topnews/D-Portugal-USA-NATO-Russland-Gipfel-Atom-Ruestung-Russland-arbeitet-bei-Raketenschild-mit-NATO-zusammen;art١٥٤٧٧٦،٢٣٤٩٠١٤ ٤-
٥-Vgl.: Noetzel, Timo; Schreer, Benjamin: Das Vietnam der NATO? Afghanistan und die Auswirkungen auf das Nordatlantische Bündnis, Juli / August • ٢٠٠٩, sehen in:
http://kops.ub.uni-konstanz.de/bitstream/handle/urn:nbn:de:bsz:٣٥٢-opus-١١٢٢٧٥/٠٧_noetzel_schreer.pdf?sequence=١
۶ ـ هماغه اخځ،
٧- Tobias Pflüger : Konkurrenz oder Parallelität EU/NATO/USA? Sehen in:
Globalisierung und Krieg, Hamburg, ٢٠٠٣, S. C. Haydt/T. Pflüger/J. Wagner:
٨ ـ شریف بهاند: **د اروآسیا** Eurasien **د سیمې پر سر سیالي، وګورئ په؛**
http://www.afghan-german.de/upload/Tahlilha_PDF/sharif_bahand_interesse_euroasia_٢.pdf
٩ ـ هماغه اخځ؛


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزی بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په څیر و لولئ